**بسم الله الرحمن الرحیم**

**(ژباړه)**

## د منکر پر وړاندې چوپتیا حیاء نه ده!

له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وفرمایل:

**«الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنْ الْإِيمَانِ»** (رواه بخاري)

**ژباړه:** *ایمان څو شپېته څانګې لري او حیا د ایمان یوه څانګه ده.*

که څه هم چې حیاء د ایمان یوازې یوه برخه ده، خو بیا هم د ایمان تر ټولو مهمه څانګړنه بلل کېږي؛ ځکه حیاء د دې ترڅنګ چې انسان له بدو عملونو څخه منعه کوي، همداسې د ډېرو نېکو صفتونو لپاره انګېزه او د شیطان د ډېرو لومو پر وړاندې خنډ هم دی. خو حیاء هېڅکله د حق خبرې او یا نېک عمل په ترسره کولو کې د شرم په معنا نه ده. نو د یو مسلمان لپاره روا نه ده، چې له خلکو څخه د شرم په خاطر په معروف امر او له منکر څخه منعه پرېږدي؛ ځکه داسې عمل حیاء نه ده، بلکې ناتواني، کمزوري او وېره ده؛ ځکه دلته حیاء کول ناسم دي.

له همدې امله یادونه کوو: هر هغه مسلمان چې لا اله الا الله محمد الرسول الله وایي، دا پرې لازمه ده، چې په لومړي سر کې د خپل رب، بیا د خلکو او اوسني واقعیت په اړه څرګند دریځ او موقف ولري او د الله سبحانه وتعالی د رضایت لپاره هغه څه ووایي، چې باید وویل شي او د هر ملامتوونکي له ملامتیا څخه ونه وېرېږي!

باید اعلان وکړي چې ټول هغه بد عملونه او دسیسې چې په پټه او ښکاره طرحه شوي، غندي او خپلې چارې هېڅ حاکم او منافق ته نه سپاري. همدارنګه د لوی منکر پر وړاندې چوپ نه پاتې کېږي؛ دا منکر هغه حکام دي چې د الهي احکامو پر ځای د غربي قوانینو پر اساس حکم کوي. ځکه د دغه ډول او دې ته ورته نورو مواردو په اړه چوپ پاتې کېدل، د حیاء نښه نه ده؛ بلکې کمزوري، ذلت او سرټیټي ده.

اې ربه! د نبوت پر منهج راشده خلافت ژر راوله، چې په واسطه یې د مسلمانانو ناوړه حالت پای ته رسېږي او غمونه یې لرې کېږي. اې ربه! په خپل کریم نور سره ځمکه روښانه کړه. اللهم آمین آمین.

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**